د افغانستان اسلامي امارت

**د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت**

**د دفتر عمومي رياست**

د افغانستان اسلامي امارت
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د دفتر عمومي رياست
د صادري مهر: ۱۳۵۹ نېټه ۱۴۴۷/۳/۲۷

**ګڼه:**      **نېټه:** / / ۱۴۰۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

**د کابل محترمې ښاروالۍ ته!**

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

**موضوع: د کابل مارکېټ د کرايې زياتوالي د موضوع په اړه مو د استازي د را پېژندلو په اړه**

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت ته د کابل مارکېټ دوکاندارانو د دغه مارکېټ د کرايې د زياتوالي په اړه ليکلي چې د کابل ښاروالۍ او د نوي قراردادي شرکت ترمنځ د قرارداد پر اساس کرايه له ۴۵۰،۰۰۰ افغانيو څخه په غيرمترقبه ډول ۴،۶۰۰،۰۰۰ افغانيو ته لوړه شوې ده. د عارضينو په خبره، د ياد مارکېټ دوکانونه د کابل ښاروالۍ لخوا مهرولاک شوي، په داسې حال کې چې په دې اړه د اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی شفاهي هدايت داسې صراحت لري: **«هيڅوک نه شي کولای په خپل سر تاسيسات، شرکتونه، فابريکې او مارکېټونه وتړي او يا يې بربېښنا پرې کړي، که کومه اداره شکايت لري، موضوع دې اقتصادي کمسيو ته راوړي».**

د موضوع په تړاو د دې معاونيت د عالي مقام شفاهي هدايت داسې صراحت لري: **«د کابل مارکېټ د نوي قرارداد تطبيق دې تر موقتي تعليق لاندې راشي او د اقتصادي معاونيت په مشرۍ يوه پنځه اړخيزه کمېټه چې د چارو ادارې، امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکايتونو اورېدلو وزارت، خوړو او درملو معينيت او کابل ښاروالۍ له استازو څخه به جوړه وي، دنده سپارل کيږي ترڅو ياده ستونزه په هر اړخيزه توګه و ارزوي او خپل راپور له حل لارو سره د دوو اونيو په موده کې دې معاونيت ته وړاندې کړي.»**

په دې اساس موضوع ستاسې محترم وزارت/ ادارې ته در واستول شوه چې خپل يو باصلاحيته استازی د يادې کمېټې د غړيتوب لپاره دې معاونيت ته راو پېژنئ؛ څو د موضوع د ارزونې بهير په ټاکل شوې موده کې ترسره شي. والسلام

**ډېره مننه**

**مولوي عبدالله عزام**

**د رياست الوزراء د اقتصادي معاونيت**

**د مقام د دفتر عمومي رئيس**

کاپي:

د چارو ادارې محترم لوی رياست

د عامې روغتيا وزارت (د خوړو او درملو معينيت)

د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکايتونو اورېدلو وزارت

د پلان، پاليسي او حقوقي چارو محترم رياست

پته: صدارت - مرمرينه ماڼۍ - د ملک اصغر څلور لاری - کابل - افغانستان Address: Sedarat Marmarin Palace - Malik Asghar Square - Kabul - Afghanistan

د اړيکې شمېره: 0202105504 Contact number :0202105504